HUMAN RIGHTS WATCH

# د رپوټ لنډيز

> زه یواځې طلاق غواړم. زه بیرته خپل پلار ته نه نشم ورتلای ځکه هغه به مې ووژني. زه ټولې کورنۍ پریښې یم.
> ـــ شل کلنه عایشه د کور ځخه د تیښتې د جرم لپاره په ۳ کلو بند محکومه شوې، دا ځکه چې د هغې پلار نوموړې د اجباري واده په ترڅ کې یو بداخلاقه سړي ته د هغه د دويمې ښځې په توګه واده کړې وه.

> حکومت باید پوې شي چې زما په شان نجونې بیګناه دي، او پدې محیط کې زمونږ زړونه ډیر تنګ شوي دي.
> —ګل پري ۱۶ کلنه، چې د زنا په تور وروسته له هغه ونیول شوه کله چې د خپل واده په شپه اختطاف شوه.

> زه هیله لرم چې تاسو به له دغو میرمنو سره مرسته وکولای شئ. د " کور ځخه د میرمنو د تیښتې" قضیې باید په ټولنه کې هواري شي نه په زندان کې. حتی په ډیرو سختو قضیو کې هم حکومت کولای شي چې ډیر څه وکړي، لکه د امن په کورونو کې د میرمنو ساتل او یا هغوي په دندو ګمارل...
> —د ښځینه زندان مشر (چې نوم یې پټ ساتل شوی).

هُما ۱۲ کلنه وه چې د یو داسې کس سره واده کولو ته مجبوره شوه چې د هغې ځخه ۱۰ کاله مشر ؤ. نوموړی په مخدرو مواد اخته ده او خپله میرمن او دوه لونې وخت په وخت وهي او په مالي لحاظ له خپلې کورنۍ سره مرسته نشي کولای. په ۲۰۰۹ کال کې یې یوه ورځ خاوند خپله لور دومره ووهله چې غابښونه یې ورمات کړل. هُما د خپلو ماشومانو سره د خپل نیکه او کاکا د زوي په مرسته له کور ځخه وتښتیده او بل ولایت ته ولاړه. د نژدې یو کال په پټه اوسیدو ځخه وروسته هغه داسې یو ځای ته لاړله چیرې چې والدین یې نژدې ورسره اوسیدل. مګر د یو څو میاشتو وروسته چارواکو ګرفتاره کړه او "د کور ځخه د تیښتې" په اخلاقي جرم او زنا باندې یې تورنه کړه دا وروسته له هغه چې خاوند یې د خپل کاکا د زوي په زنا تورنه کړه او ویل یې چې هغه په تیښته کې ورسره مرسته کړې ده. هُما په ۷ کاله بند محکومه شوه او د خپلو ماشومانو سره په بند کې ده. هغه اوس ۲۲ کلنه ده.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو رژیم د سقوط ځخه راپدې خوا په افغانستان کې د میرمنو او نجونو د حقوقو په برخه کې ستر پرمختګونه شوي دي. د هیواد په ځینو داسې برخو کې چې د حکومت په ولکه کې دي، د میرمنو په تعلیم، کار او روغتیایي پاملرنو باندې ډیر لګول شوي محدودیتونه له منځه تللي دي. ډیرو میرمنو په حکومت کې دندې اخیستي، دفترونه لري او د افغان ټولنې سره بیا پیوسته شوي دي. په ۲۰۰۴ کال کې یو نوی اساسي قانون جوړ شو کوم چې د میرمنو د مساوي حقوق ډاډمنوي او په ۲۰۰۹ کال کې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون اجباري ودونه

منع وګرځول او د اجباري او کم عمرو ودونو، کورني تاوتریخوالي، جنسـي تیري، په زور فحشاء ته بیولو او نورو ناوړه کړنو لپاره یې نوې سـزاګانې وټاکلې.

ولسمشر حامد کرزي هم د میرمنو د حقوقو څخه د ملاتړ لپاره یو څه هڅې کړي دي چې بیلګې یې د ګڼ شـمیر هغو میرمنو بخښـل دي کومې چې په اخلاقي جرایمو باندې تورنې وې، چې دا کار یې یا په خپل نوښت او یا هم د مدني ټولنو په غوښتنوسره ترسره کړی دی. په خپله ترټولو وروستۍ بخښنه کې نوموړي د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۸ د یو حکم په ترڅ کې هغه میرمنې پرته د کوم شـرطه وبخښـلې کومې چې د پلار د کور څخه د خپلې خوښـې کس سره د واده کولو لپاره تښـتیدلې وې.

مګر دا بدلونونه هغه څه ته چې میرمنې ورسره مخ دي یوه بله بڼه ورکوي، چیرې چې د تبعیض او ناوړه چلند کچه لوړه ده، لکه اجباري او د کم عمرو ودونه او کورني تاوتریخوالي چې هُما ورسره مخ شـوي ده، ډیر لږ تعقیبیږي. ددې پرځاي چې د پولیسـو، قضایي ادارو او حکومتي چارواکو څخه مرسته ترلاسه کړي، هغه میرمنې چې د کور څخه د تیښـتې هڅې کوي، د ستونزو، ناخوالو او اخلاقي جرایمو سره مخ کیږي.

دا رپوټ په افغانستان کې د ۵۸ میرمنو او نجونو سره په دریو ښـځینه زندانونو او یو دارالتأدیب کې د مرکو پر بنسټ جوړ شـوی دی، همدارنګه پدې رپوټ کې د مدني ټولنو د غړو، د زندانونو د مشـرانو، څارنوالانو، حکومتي چارواکو، د امن کورونو برابرونکو، د میرمنو د حقوقو فعالانو، حکومتي مشـاورینو، او حقوقي کارپوهانون او د میرمنو د حقوقو له کارپوهانو سره مرکې شـوي دي. دا رپوټ په هغو میرمنو او نجونو باندې تمرکز کوي کومې چې په اخلاقي جرایمو لکه د "کور څخه تیښـتې" او زنا باندې متهمې دي. د کور څخه د تیښـتې جرم د افغانستان په جزا قانون کې ندی ذکر شـوی. د افغانسـتان په قانون کې د زنا جرم د افغانسـتان د نړیوالو حقوقي تعهداتو سره په ټکر کې دی. جرمي قضیې شـکمن اتهامات رامنځته کوي چې سـتونزمنو اعترافاتو سره په ګوته کیږي او د میرمنو او نجونو لپاره د اوږدې مودې بند سبب ګرځي. دا رپوټ د هغو میرمنو نژدې دری درجنه قضیې په ګوته کوي کومو ته چې ددغو "جرایمو" لپاره سـزا ورکول کیږي او د هغو په سـزا کې د پولیسـو، څارنوالانو او قضات لخوا کوم منفي رول چې لوبول شـوی، په ګوتو کیږي.

په خپل دې کار سره دا رپوټ د افغانستان په عدلي او قضایي سیستم کې دوه بې عدالتۍ په ګوته کوي چې عبارت دي له: د اکثراً مبهمو او یا نامعلومو "اخلاقي جرایمو" تطبیق، او د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون ناسم تطبیق. پداسې حال کې چې هغه میرمنې او نجونې چې د ناوړه چلند له لاسه د کور څخه تښتي، ډیری وختونه زنداني کیږي او هغه نارینه چې د کورني تاوتریخوالي او اجباري ودونو مرتکب او مسؤل وي د معافیت او د عدلي تعقیب د خلاصون څخه خوند اخلي.

په افغانستان کې د میرمنو او نجونو د حقوقو په وړاندې ډیر خنډونه پراته دي. د بشـر د حقوقو د څار د اداري پخواني رپوټ یې د یو شـمیر څخه یادونه کړې ده، چې په میرمنو او نجونو باندې د طالبانو حملې، په زده کړو باندې ټینګ محدودیتونه، د جنسـي تیري تهدید، اجباري او د کم عمرو ودول، عدالت ته نه لاس رسی، په عام ژوند کې د میرمنو

په ننبه کول، او د کارکولو خنډونه پکې شامل دي.[1] مونږ پدې رپوټ کې د "اخلاقي جرايمو" په مجرميت باندې تمرکز کړی دی ځکه چې هغه په قانون اوعمل کې د ميرمنو او نجونو سره د ناوړه چلند او تبعيض څرګند مثالونه دي، او ځکه چې مونږ پدې باور يو چې دا هغه ډګرونه دي په کومو کې چې مطلقو بدلونونو ته اړتيا ده ترڅو د ميرمنو او نجونو په ژوند کې بهبود راشي.

اګرچې دقيقق ارقام په لاس کې نشته مګر بياهم د بشر د حقوقو د څار اداره د پخوانيو ليدنو او د دريو ښځينه زندانونو سره د زمونږ د کار پربنسټ وايي چې د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په مياشت کې په ټول افغانستان کې نژدې ۴۰۰ ميرمنې او نجونې د "اخلاقي جرايمو" لپاره زنداني دي. دا شمير د افغانستان په زندانونو کې د ټولو زنداني ميرمنو (د اطفالو پرته) نيمايي جوړوي.

دهغو ميرمنو او نجونو په وړاندې ناوړه چلند کومې چې په "اخلاقي جرايمو" مرتکبې دي، نه يواځې دا چې په سلګونو هغه ميرمنې او نجونې اغيزمنوي کومې چې هرکال نيول کيږي، بلکه هره ميرمن چې د اجباري واده يا کم عمره واده، کورني تاوتريخوالي، يا نورو ناوړه چلندونو سره مخ کيږي، اغيزمنوي. ميرمنې او نجونې ددې لپاره محاکمه کول چې د ناوړه چلند څخه تيښته کوي، پخپله نورو ته يو روښانه پيغام ورکوي چې: د يو خطرناک کورني ژوند څخه مه تښتئ او نه د کور څخه بهر د چا څخه مرسته غواړئ، ځکه که چيرې تاسو د خونديتوب يا عدالت غوښتنه وکړئ، کيداي شي د سزا سره مخ شئ.

• • •

افغان ميرمنې په ځانګړي ډول هغه چې د لويو ښاري سيمو څخه ليرې ژوند کوي، مجبورې دي چې د غيرمکتوبو او محدودو دودونو سره سم ژوند وکړي. کله چې هغوي د کور څخه بهر سفر کوي او يا د دوه کليو يا ښارونو ترمنځ ځي نو بايد له ځانه سره يو محرم ولري، که نه نو د "بداخلاقه" ټاپه ورباندې لګول کيږي. پداسې حال کې چې زده کړې ته د ميرمنو او نجونو لاس رسی د طالبانو د رژيم څخه خورا ډير زيات دی، مګر بيا هم ترنيمايي زيات نجونې اوس هم ښوونځي ته نه ځي. په هرو دوؤ ساعتو کې يوه افغان ميرمن د ولادت اړوندو ستونزو له امله مري، دا ځکه چې په ځينو برخو کې ډيری وخت نجونې د بلوغ ته رسيدو سره جوخت په اجباري ډول واده کيږي او بيا مخکې له دې چې بدن يې په پوره ډول وده کړي وي، ماشوم راوړي.

په ټوله نړۍ کې د افغان ميرمنو د بې سوادی، بې وزلۍ او کم عمر لرلو کچه لوړه ده. ډيرې ميرمنې او نجونې چې ددې رپوټ د جوړولو لپاره ورسره مرکې شوي، يو شمير نورې ننګونې يې هم زغملي چې ناوړه فزيکي چاپيريالونه او اجباري ودونه (چې ډيری وخت ځوانه نجلی يو زوړ سره ته واده کيږي)، او هغه فکتورونه شامل دي چې د هغوي د کورڅخه د تيښتې او نيول کيدو سره په مستقيم ډول تړلي دي، پکې شامل دي.

[1] د مثال په توګه، د بشر د حقوقو د څار اداره، مونږ د نړۍ ژمنې له ځانه سره لرو: په افغانستان کې د ميرمنو حقوق، دسامبر ۲۰۰۹، http://www.hrw.org/reports/2009/12/03/we-have-promises-world-0; او د بشر د حقوقو د څار اداره، افغانستان – "د لسو ډالرو طالب او د ميرمنو حقوق"، جولاي ۲۰۱۰، http://www.hrw.org/reports/2010/07/13/ten-dollar-talib-and-women-s-rights-0

کله چې میرمنې او نجونې د ناوړه چلند یا ناخوښۍ په خاطر د کور څخه د وتلو پریکړه وکړي، قهریدلي والدین، وروڼه، او خاوندان یې ډیری وخت د کور څخه په تیښته یا زنا باندې تورنوي. د کورنۍ نارینه غړي پدې ښه پوهیږي چې د هغوي د خپل مجرمانه چلند په اړه به تحقیق ونه شي، نو ځکه دا ډول تورونه د آلې په توګه کاروي. د چارواکو په مرسته هغوي ډیر مایل وي چې ورباندې وارد شوي اتهامات د خپل مخ په بیعه ومني، هغوي په اساني کولای شي چې یوه ښځه په زنا باندې متهمه کړي، هغوي پوهیږي چې هغه (میرمن) کیدای شي ګرفتار کړل شي. کله چې داسې وشي، میرمنې ډیری وخت د جدي طبي معاینې سره مخ کیږي چې شهرت او اعتبار یې سخت زیانمنوي، اګر که ورباندې لګول شوي تورونه ثابت هم نشي. ان تردې چې د اتهام تهدید د میرمنو د کنټرولولو او د جرایمو د توجیه لپاره کارول کیدای شي، چې اجباري او د کم عمر لرونکي ودونه، جنسي تیري، حمله او په اجباري ډول فاحشه کول پکې شامل دي.

میرمنې او نجونې اکثراً د مرستې څخه بې برخې ندي. د کورنۍ ځیني غړي لکه د هُما نیکه، هغوي ته پناه ورکوي او خوندي یې ساتي، او ځینې افغان چارواکي هم د هغوي په خوندیتوب کې زړور ګامونه پورته کوي. د بسپنه کوونکو په مالي مرسته او د حکومت په ملاتړ د هیواد په نژدې نیمو سیمو کې یو کم شمیر خصوصي امن کورونه جوړ شوي چې هغه میرمنې خوندي وساتي کومې چې د تاوتریخوالي او اجباري ودونو څخه تښتي.

اګرچې دا ډول اقدامات ترډیره بسیا نه کوي. ډیری وخت میرمنې او نجونې له دې خبرې نه وي چې امن کورونه هم شتون لري، او هغه امن کورونه چې همدا اوس فعال دي، شمیر یې ډیر کم دی او هغه میرمن خوندي نشي ساتلای کومه چې په یو جرم باندې متهمه وي. ددې ترځنګ، د عدالت په هر پړاؤ کې د میرمنو او نجونو په وړاندې تعصب یوه وسله ده، چې ډیری چارواکي په ځای ددې چې د میرمنو حقوق خوندي وساتي، د ټولنیزو دودونو تطبیق ځواکمنوي. ددې سره سره پولیس هم د خاوندانو او پلرونو پلوي کوي، لکه چې د حنا په قضیه کې یې چې پولیسو ته اطلاع ورکړه چې تښتیدلې لور یا ښځه ګرفتاره کړي، دا پدې ګمان چې که چیرې یو سړی د میرمنې په وړاندې شکایت وکړي او یا هغه د اجازې پرته د کور څخه بهر ووځي، نو په بد اخلاقۍ تورنه کیږي. د "اخلاقي جرایمو" په ځینو قضیو کې پولیسو میرمنې او نجونې نیولي، پداسې حال کې چې هغوي د امن کورونو ته هم پناه وړې دي.

د ګرفتارۍ څخه سمدلاسه وروسته پولیس معمولاً په تهدیدونکو حالاتو او د مدافع وکیل او حتی د یوملګري په نه موجودیت کې د میرمنو څخه معلومات راټولوي. میرمنو او نجونو ته ویل کیږي چې هغه اعترافاتو باندې ګوته ولګوي چې پخپله یې نشي لوستلای او نه بل چا ورته لوستي وي. دا اعترافات ډیری وخت د محاکمو لپاره مهم مدارک وي او د محکومیتونو او اوږدمهالو زندانونو سبب ګرځي.

د ډیرو لږو استثنایي حالاتو پرته څارنوالان او پولیس د دې ډول قضیو په اړه پلټنې محدودې کړي ځکه چې نوموړو د کور څخه تیښته کړې ده. قاضیان د غیرمرتبطو معلوماتو پربنسټ حکم صادروي، لکه یو لیک چې د میرمې د خاوند څخه وي او د

هغې ځخه د نافرمانۍ شکایت کوي او د سزا غوښتنه یې کوي، پداسې حال کې چې هیڅ راز حقوقي تحلیل او استدلال موجود نه وي.

زمونږ د خیړنې پرمهال مونږ هیڅ داسې مدارک پیدا نکړل چې چا دا پوښتنه مطرح کړې وي چې آیا د جنسي تیري په قضیه کې ښکیلو میرمنو په خپله خوښه دې کار ته مخه کړې او که په زور ورته اړ شوي دي. د مثال په توګه د یوې محکمې په سوابقو کې چې د بشر د حقوقو د څار اد ارې لیدلي، ۱۸ کلنې تمنا وویل چې له هغې سره په زور جنسي تیری شوی ؤ. ددې پرځای چې د هغې تورونه ترعدلي تعقیب لاندې ونیسي، محکمې هغې ته خبرداری ورکړ چې میرمنې باید پدې پوي شي چې د شپې لخوا د کور ځخه وتل هغوي ته خطرناک دي، او ویې ویل چې نوموړې باید چغې نه واي وهلې ځکه چا به اوریدلې واي. محکمې داسې پریکړه وکړه چې دوه کسانو تمنا جان یوخالي ساختمان ته بیولې او هلته یې ورباندې جنسي تیری کړی، مګر بیاهم هغه په زنا باندې محکومه شوه او د دوه نیم کاله بند سزا ورته واورول شوه چې اوس هم هملته پاتې ده.

د افغانستان سترې محکمې دا تبعیض په رسمي ډول تصویب کړی او د هیواد قضاتو ته یې هدایت کړی چې د "کور ځخه تښتیدل" جرم وګڼي، اګرچې د افغانستان په موضوعه قوانینو کې د دې موضوع ځخه هیڅ یادونه نده شوې. محکمه وایی چې که چیرې د کور ځخه د تیښتې د موضوع پرته میرمنې په کور ستونزې هم ولري، باید د حکومت ځخه مرسته وغواړي. لکه څرنګه چې دا ریپوټ ښیي چې دا د ډیری میرمنو او نجونو لپاره یو خطرناک او ناممکن کار: هغوي هیڅ اطمینان نلري چې پولیس، قضایي ادارې، او حکومتې ادارې به د اړتیا په وخت کې له هغوي سره مرسته وکړي. مګر له ډیرو میرمنو او نجونو سره چې مونږ مرکې کړې، ویلي یې دي چې د حکومت ځخه په مرستې غوښتلو سره نور هم قرباني شوي دي.

کله چې د بشر د حقوقو د څار ادارې د څارنوالانو ځخه وپوښتل چې ولې میرمنې د "اخلاقي جرایمو" لپاره ترعدلي تعقیب لاندې نیسي، پداسې حال کې چې د جرم په اړه یې لومړني معلومات هم نلري، نو د هغوي معمولي ځواب خندل ؤ. څارنوالانو وویل چې هغه میرمنې چې د اخلاقي جرایمو لپاره توقیف شوي، د بد اخلاق لرونکې دي، نو ځکه یې د تیري او ناوړه چلند کیسې جوړې کړي دي. نورو وویل چې ناوړه چلند دومره شدید نه ؤ چې خاوند ته هم سزا ورکول شي. یو څارنوال د یوې داسې تښتیدلې میرمنې په قضیه کې بیا هم ورته خبرې کولې چې په وار وار د خاوند لخوا په سر، سینه او لاسونو په پیچکش وهل شوې وه.

ډیری میرمنو چې د بشر د حقوقو د څار ادارې ورسره مرکې کړي، وویل چې په اخلاقي جرایمو متهم کیدل یې د زندان ځخه هم بدې پایلې لري. ډیرو میرمنو او نجونو وویل چې د زندان ځخه د خلاصیدو وروسته به یې خاوندان یا د کورنۍ غړي ووژني، ځکه چې هغوي یې شرمولي دي، دا ځکه چې په افغانستان کې "حیثیتي وژنې" ډیرې معمول دي. خوندي امن کورونه چې د زړورو افغان نادولتي سازمانونو لخوا چلول کیږي، د ځینو دې ډول میرمنو او نجونو لپاره یو مناسب ځای دی ترڅو هغوي ژوندۍ پاتې شي مګر دا ډول امن کورونه یواځې په هغو سیمو کې شتون لري کومې چې لږ

سنتي دي او د دښمنانو لخوا ترتهدید لاندې راځي ځکه هغوي يې فاحشه خانې بولي او د بندولو هڅه يې کوي.

ځينو نورو ښځو د بشر د حقوقو د څار ادارې ته وويل چې هغوي باید یا د ناوړه چلند او یا د خپلو ماشومانو څخه لیرې ژوند ځان ته غوره کړي. ځينو وويل چې بیرته به خپل کور ته ولاړ شي چیرې چې اوړه چلند ورته انتظار کوي، ځکه چې هغوي پوهيږي چې که بیرته خپل کور ته و نه ګرځي خاوندان به يې ماشومان وساتي.

په ناخوښۍ سره باید ووایو چې ډیری میرمنې او نجونې چې مرکې ورسره شوي په هغو جرایمو باندې متهمې شوي کوم چې پخپله د هغوي په وړاندې ترسره شوي دي. ډیری يې داسې ښکاري چې د خپلې قضیې سره د رضایت خبرې نه کوي، دا ځکه چې د جنسي تیري په اړه چې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په قانون کې يې یادونه شوې ځوک ډیر خبراوی نه لري، نو ځکه باید اوس هم خلکو ته پدې اړه خبراوی ورکول شي. "زه پخپلو ټولو کارو [د کورڅخه تیښتې] وشرمیدم او هرڅه چې وشو مسؤلیت يې زما پرغاړه ؤ،" داخبره فوزیه هغه مهال وکړه چې خپله د کور څخه د تیښتې او ورسره د جنسي تیري قضیه يې بیانوله او بیا هغه مهال د پولیسو لخوا ونیول شوه چې د هغوي مرکز ته يې د ورسره شوي تیري په اړه رپوټ ورکړ. "پلار مې دلته راغلو بخښنه يې راته وکړه او راته يې وویل چې کورته ولاړه شم. دا زما لپاره غټ شرم ده زه د هغه لور یم، نو زه پخپله ځان نشم بخښلاي."

دا وضعیت هغه وخت نور هم خراب شو چې ولسمشر کرزي د میرمنو د حقوقو په برخه کې په وار وار خپل دریز بدل کړی دی. ډیری وخت يې په غیر ارادي ډول یا د محافظه کارو په وړاندې د ثابت دریز د غوره کولو د قدرت د نه لرلو لپاره داسې جوړ جاړي کړي چې د میرمنو په حقوقو باندې يې منفي اغیز لرلی دی. یو له هغو کارونو څخه يې په ستره محکمه کې د سختو محافظه کارو ګمارل او په ۲۰۰۹ کال کې د اهل تشیع د شخصي احوالو د تبعیض نه ډک او سرسخت قانون توشیح کول دي.

د ۲۰۱۲ کال په مارچ میاشت کې دعلماؤ د شورا هغه بیانیه يې په ټوله ایز ډول تایید کړه چې ویل يې میرمنې د نارینه څخه وروسته دي، د نارینه محرم څخه پرته باید سفر ونکړي او د کار یا درسي چاپیریال کې باید د نارینه سره یوځاي نه وي. د علماؤ د شورا په وینا په ځینو حالاتو کې د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی د منلو وړ دی. کرزي وروسته خپل موقف داسې څرګند کړ، "د افغانستان د علماؤ شورا په میرمنو باندې کوم محدودیت ندی لګولاي، دا خو یواځې د ټولو مسلمانانو او افغانانو د شریعت څخه اخیستل شوې خبره ده."

لکه څرنګه چې متحده آیالات او نور مرستندویه هیوادونه په افغانستان کې اساساً په خپلو نظامي او نورو ژمنو کې د کمښت راوستلو تیاری نیسي (د امریکا نظامي ځواکونه لکه چې ټاکل شوې د ۲۰۱۴ م کال ترپاي پورې به له افغانستان څخه ووځي)، هغوي او افغان حکومت باید د میرمنو د حقوقو د خوندیتوب لپاره قوي بنسټونه جوړ کړي. د طالبانو د سقوط څخه لس کاله کیږي، مګر بیاهم د میرمنو او نجونو په وړاندې تاوتریخوالي ډیرزیات دي، چې ډیره لږه او یا هیڅ پوښتنه يې نه کیږي. دا د شرم خبره ده چې د افغانستان د جنایي عدالت نسبتاً ډیرې لږ منابع د میرمنو او

نجونو د هغو کړنو لپاره کارول ، کیږي کومې چې حتی باید هیڅ جرم ونه ګڼل شي، پداسې حال کې چې د بشر د حقوقو او میرمنو او نجونو سخت سرغړونکي او مرتکبین په معافیت کې دي.

# مهمې سپارښتنې

د بشر د حقوقو د څار اداره په افغان حکومت او نړیوالو شریکبانو یې غږ کوي چې د هغو ناوړه چلندونو په وړاندې جدي اقدامات وکړي کوم چې پدې رپوټ کې بیان شوي دي.

د افغان حکومت چلند د هغو میرمنو او نجونو سره کومې چې په "اخلاقي جرایمو" متهمې دي، پخپله د افغان حکومت او د هغه نړیوالو کومک کوونکو په مخ یو تور داغ دی، سره لدې چې ژمنې یې کړي چې د میرمنو او نجونو سره به د هغوي چلند د طالبانو په پرتله ډیر متفاوت او پرمختللی وي. لس کاله کیږي چې نړیوال په افغانستان کې په پوره ډول ښکیل دي او مرستې ورسره کوي، مګر اوس اړتیا ده چې افغانستان او نړیوال ملاتړي یې په مرستو او سیاسي ډګر دواړو کې د میرمنو حقوقو ته لومړیتوب ورکړي. ددغو قضیو حل به په څو راتلونکو کلو کې د افغان حکومت او نړیوالو لپاره د بریا یا ناکامۍ یو اقدام وي.

د ملګرو ملتونو د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي ځانګړی رپوټ ورکونکي په افغانستان غږ وکړ چې "د زنا د قانون په ګډون هغه قوانین فسخ کړي کوم چې د میرمنو او نجونو په وړاندې تبعیض ته لار هواروي، او د هغوي سره د ناوړه او غیر انساني چلند او زندان سبب ګرځي."[2] "د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقوقو د خوندیتوب کمیټه افغانستان وهڅاوه چې "دا ډول اخلاقي کړنې جرم ونه ګڼي او پدې اساس ګرفتار شوي ماشومان آزاد کړي."[3]

د افغان او نړیوالو لپاره ترټولو لومړی پکار دي چې دوه اساسي اصول په پام کې ونیسي ترڅو پدې ډول قضیو کې د میرمنو او نجونو حقوق په غوره توګه خوندي وساتل شي (د سپارښتنو پوره مجموعه ددې رپوټ په پای کې ده).

لومړی، د کور څخه تیښته که د ناوړه چلند د لاسه وي او یا د کوم بل علت پراساس، باید هیڅکله جرم ونه ګڼل شي. پدې اړه:

- د افغانستان ستره محکمه باید د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلو هغه لارښوونې کې چې "د کور څخه تیښته" پکښې جرم ګڼل کیږي، بدلون راولي او پرځاي یې داسې لارښوونې رامنځته کړي چې پکښې روښانه شي چې "د کورڅخه د میرمنو تیښته" جرم ندی او د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې پربنسټ د تعقیب وړ نه ګرځي.
- ولسمشر کرزی یو داسې فرمان صادر کړي چې په ترڅ کې یې د افغانستان په قوانینو کې "د میرمنو د کور څخه تښتیدل" جرم ونه ګڼل شي او هرڅوک چې د "کور څخه په تیښته" محکوم وي ، وبخښل شي.
- نړیوال بسپنه کوونکي باید د افغان حکومت سره د میرمنو په وړاندې دتاوتریخوالو د له منځه وړلو د قانون په تطبیق، د "کور څخه د تیښتې جرم"

---

[2] اا د بشر د حقوقو د کمیسون د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالي او د هغه علتونه او پایلې په افغانستان کې د میرمنو او نجونو په وضعیت د ځانګړي رپوټ ورکونکي رپوټ, UN Doc. A/58/421, October 6, 2003, http://www.unhchr.ch/huridocda/huridoca.nsf/0/4d099bc67f0526edc1256dd700503b65/$FILE/N0355646.pdf, para. 31

[3] د افغانستان په اړه د CRC نهايي مشاهدات CRC/C/AFG/CO/ ۱ فبروری ۲۰۱۱، ۷۵ مخ

فسخ کولو، د زنا او فامیل اړوند قوانینو او نورو هغو قوانینو په برخه کې چې د میرمنو په وړاندې تبعیض رامنځته کوي، سیاسي همکاري وکړي.

دویم، هغه میرمنې او نجونې چې د زور ودولو، کورني تاوتریخوالي، جنسي تیري، او نورو جرمونو ښکار دي، باید په سم ډول خوندي وساتل شي او د دې ډول جرایمو مرتکبین په منظم ډول ترپوښتنو لاندې راوستل شي او محاکمه شي. پدې اړه:

- لوي څارنوال باید څارنوالانو ته لارښوونې وکړي او مکلف یې کړي چې باید د میرمنو د جرایمو تحقیقات د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پر اساس ترسره کړي. ترڅو په سم ډول روښانه شي چې میرمنې د ناوړه چلند ښکار شوي.
- د کورنیو چارو وزارت باید ټولو پولیسو ته لارښوونه وکړي چې هغوي اړ دي د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د ترلاسه شویو معلوماتو څخه د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون سره سم څارنوالان زرترزره خبر کړي.

نړیوال بسپنه کوونکي باید د امن کورونو سره باثباته اوږدمهالې مرستې چې د امن کورونو د اوسني سیستم پراخوالی، د امن پرانیستي کورونه، د زندان څخه د خلاصیدونکو میرمنو لپاره استوګنځي او د هغو میرمنو لپاره اوږدمهالې مرستې پکې شاملې دي کومې چې په دایمي ډول د خپلو کورنیو سره نشي یوځای کیدای.

# سپارښتنې

*افغان ولسمشر باید:*

- یو داسې فرمان صادر کړي چې په ترڅ کې یې د افغانستان په قوانینو کې "د میرمنو د کور څخه تښتیدل" جرم ونه ګڼل شي او هرڅوک چې د "کور څخه په تیښته" اوس محکوم وي او یا په راتلونکې کې محکومیږي، وبخښل شي.
- د عدلیې وزارت ته لارښوونه وکړي چې د افغانستان په زنا پورې اړوند قوانین تعدیل کړي او د افغانستان د نړیوالو حقوقي وجایبو سره یې همغږی کړي. او د پارلمان سره په ګډه کار وکړي ترڅو دغه تعدیلات پاس کړي.
- پارلمان ته د فامیل د نوي قانون مسوده واستوي او ژر ترلاسه کړي چې د فامیل پدغه نوي قانون کې کوم د تبعیض نه ډک احکام شتون نلري. د پارلمان سره په ګډه کار وکړي چې که چیرې د کورنۍ د قانون دغه نوې مسوده د نړیوالو حقوقو او نورمونو سره ډېره لګوي، تطبیق یې کړي.

*ستره محکمه باید:*

- د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلو هغه لارښوونې چې "د کور څخه تیښته" پکښې جرم ګڼل کیږي، مسترد کړي او پرځای یې داسې استهداأت رامنځته کړي چې پکښې روښانه شي چې "د کورڅخه د میرمنو تیښته" جرم ندی او د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې پربنسټ د تعقیب وړ نه ګرځي.
- ترڅو چې افغان قوانین تعدیلیږي، ټول هغه محکومیتونه چې د "اخلاقي جرایمو" لپاره ترسره شوي د شکلي تیروتنو لپاره تر څیړنې لاندې ونیسي، د هغو تصامیمو په ګډون کوم چې د مدارکو د نشتوالي، دفاعي بحثونو ته په پوره پام نه کولو او یا په زور د اقرار د ترلاسه کولو په ترڅ کې صادر شوي وي او ټول هغه تصامیم فسخ کړي کوم چې د عادلانه محاکمې او د بشر د حقوقو د نړیوال قانون سره سم نه وي ترسره شوي. دا کتنه او مرور د ټولو هغو کسانو په دوسیو ترسره کړي کوم چې د "اخلاقي جرایمو" لپاره توقیف شوي وي، مګر د هغو توقیفیانو دوسیو ته لومړیتوب ورکړي کوم چې ماشومان (د ۱۸ کلو څخه کم عمر لري) دي یا د ناوړه چلند په تړاو نیول شوي (لکه: کورنی تاوتریخوالی، جنسي تهدید، یا په زور یا د ماشومتوب ودونه). د ټولو قضیو کتنه او مرور د ۲۰۱۲ کال ترپای پورې پای ته ورسوي.
- داسې لارښوونې صادرې کړې چې محاکم به "اخلاقي جرایم" یا نورې قضیې د مدافع وکیلانو په نه موجودیت کی تررسیدګۍ لاندې نه نیسي او محاکم باید غیرحاضر مدافع وکیلان او هغه مدافع وکیلان چې د دفاع لپاره پوره چمتووالی نلري، د مدافع وکیلانو د ټولنې د نظارت بورد ته وروپیژني.
- داسې لارښوونې وکړي چې دټولو قضاتو دندې د جزایي اجراأتو د مؤقت قانون د ۷، ۳۲، ۳۸، ۵۱ او ۵۵ مادو پر بنسټ روښانه کړي، او باید وویل شي چې د قضاياؤ په اړه یواځې هغه معلومات د منلو وړ دي کوم چې د نوموړو مادو پربنسټ ترلاسه شوي وي. ترلاسه شوي "اعترافات" باید سم تحلیل شي ترڅو معلوم شي چې په بشپړ ډول په خپله خوښه دي او باید یواځې هغه اعترافات د منلو وړ وي چې د مدافع وکیل په حضور کې شوي وي. همدارنګه نور مدارک هم باید یواځې هغه وخت د منلو وړ وي چې د راجمع کولو پروخت

کې یې مدافع وکیل ته د ګډون بلنه ورکول شوي وي. د افغانستان د جزايي اجراأتو د مؤقت قانون په ۳۸ او ۵۵ مادو کې د ذکر شویو مواردو ترڅنګ یواځې د شاهدانو او اهل خبره شاهدي ده چې د نوموړي قانون د ۵۱ مادې سره سم د مدارکو په توګه د منلو وړ ده. یواځې تورونه چې د شهودو د مقابلې وړ هم نه وي، باید ونه منل شي.

- د اطفالو د قانون احکام چې د ماشومان لوړې ګټې خوندي کوي، په ټینګه تطبیق کړي.
- یواځې هغه متخلف ماشومان په دارالتأدیب کې وساتي چې عمر یې د ۱۸ کلو څخه کم وي او توقیف یې باید تر ټولو وروستۍ چاره وي، همدارنګه د ساتلو لپاره یې تر ټولو لږه موده وټاکي.

## *لویه څارنوالي باید:*

- څارنوالانو ته هدایت وکړي چې د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې سره سم څوک جنایاتو متهم نه کړي.
- داسې لارښوونې وکړي چې د ټولو متهمینو څخه باید یواځې د مدافع وکیل په موجودیت کې تحقیقات وشي.
- لارښوونې وکړي چې د میرمنو څخه د تحقیقاتو پرمهال باید تر ډیره د ښځینه څارنوالانو څخه کار واخیستل شي.
- څارنوالانو ته لارښوونې وکړي او مکلف یې کړي چې باید د میرمنو د جرایمو تحقیقات د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پر اساس ترسره کړي. ترڅو په سم ډول روښانه شي چې ایا میرمنې د ناوړه چلند ښکار شوي او که څه.
- د بشر د حقوقو د نړیوال قانون سره سم د عادلانه محاکمې څخه د "اخلاقي جرایمو" په برخه کې ډیرو سرغړونو ته په کتو د نوموړو جرایمو لپاره متهم کول باید د افغان قوانینو ترتعدیلیدو پورې په فوري ډول وځنډوي. د نه ځنډولو په صورت کې د "اخلاقي جرایمو" (لکه کورني تاوتریخوالي، جنسي تیري تهدید، یا د اجباري یا د کم عمرو ودول) لپاره د ماشومانو (د ۱۸ کلو څخه کم)، میرمنو او نجونو د عدلي تعقیب څخه ډډه وشي.
- د اطفالو د قانون احکام چې د ماشومان لوړې ګټې خوندي کوي، په ټینګه تطبیق کړي.
- یواځې هغه متخلف ماشومان په دارالتأدیب کې وساتي چې عمر یې د ۱۸ کلو څخه کم وي او توقیف یې باید تر ټولو وروستۍ چاره وي، همدارنګه د ساتلو لپاره یې تر ټولو لږه موده وټاکي.
- باید لارښوونې وکړي چې څارنوالان مخکې لدې چې د عدلي تعقیب په خلاف د کار، ټولنیزو چارو، شهداؤ او معلولینو د وزارت د ټولنیز کارکوونکي د وړاندیز په پام کې نه نیولو څخه مخکې د لوي څارنوال تصدیق ولري.

## *د کورنیو چارو وزارت باید:*

- د بشر د حقوقو د نړیوال قانون سره سم د عادلانه محاکمې څخه د "اخلاقي جرایمو" په برخه کې ډیرو سرغړونو ته په کتو د نوموړو جرایمو لپاره تحقیق باید د افغان قوانینو ترتعدیلیدو پورې په فوري ډول وځنډوي. د نه ځنډولو په صورت کې د "اخلاقي جرایمو" (لکه کورني تاوتریخوالي، جنسي تیري تهدید، یا د

اجباري يا د کم عمرو ودول) لپاره د ماشومانو (د ۱۸ کلو څخه کم)، میرمنو او نجونو د تحقیق څخه ډډه وشي.

- پولیسو ته لارښوونې وکړي چې د جندر اړوند تعصبات باید د هغوي پریکړې د قضیو د تعقیب په برخه کې تراغیز لاندې رانولي، د "اخلاقي جرایمو" د قضیو په ګډون.
- لیکلي پروتوکولونه تصویب کړي چې په مټ یې ښځینه پولیس اړباسي ترڅو د میرمنو څخه تحقیق وکړي، او همدارنګه په جرمونو تورل متهم کسانو څخه د هغوي د مدافع وکیل په موجودیت کې تحقیق وشي.
- د ښځینه پولیسو د ګمارنې بهیر ګړندی کړي او د سمې ګمارنې په برخه کې جدي کمپاین په لار واچوي.
- د ښځینه پولیسو لپاره د کارکوونکو د کورنیو پیښو ته د رسیدګی ځانګه رامنځته کړي.
- د پولیسو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړ کړي په ځانګړي ډول د ښځینه پولیسو لپاره او د جنسي تهدید او په احساسمند ډول د قربانیانو څخه تحقیق موضوعاتو ته پکې ځاي ورکول شي، او همدارنګه په مستند ډول معلومات راجمع شي ترڅو معلومه شي چې جنسي اړیکې په رضایت سره دي او که نه.
- ټولو پولیسو ته لارښوونه وکړي چې هغوي اړ دي د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د ترلاسه شویو معلوماتو څخه د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون سره سم ځارنوالان زرترزره خبر کړي.
- یواځې هغه متخلف ماشومان په دارالتأدیب کې وساتي چې عمر یې د ۱۸ کلو څخه کم وي او توقیف یې باید ترټولو وروستی چاره وي، همدارنګه د ساتلو لپاره یې ترټولو لږه موده وټاکي.

## د ښځو د چارو وزارت باید:

- د افغانستان د میرمنو د امن کور (شلټر) د سیستم څخه ملاتړ وکړي او د پراختیا په برخه کې یې کار وکړي، چې د د امن د کور خوندیتوب هم پکې شامل دی. که چیرې په ځینې ولایاتو کې د امن د کور د جوړولو امکان نه وي، باید هغو میرمنو ته چې د امن کور ته اړتیا لري، داسې زمنیه مساعده شي چې په اساني وکولاي شي د نورو سیمو د امن کور ته ځانونه ورسوي.
- د عامه پوهاوی د هغو پروګرامونو څخه ملاتړ وکړي چې میرمنې په زندان کې د امن کورونو د موجودیت څخه خبروي، او هغوي کولاي شي د زندان څخه وروسته که چیرې خپلو کورونو ته د تګ څخه ویره لري، د امن کور ته لاړې شي.
- د اوښتون د نورو ورته مرکزونو د جوړولو ملاتړ وکړي په ځانګړي ډول د هغو میرمنو لپاره چې د زندان څخه راوځي.
- د خدمتونو د رامنځته کولو څخه ملاتړ وکړي په ځانګړي ډول د هغو خدمتونو څخه چې د هغو میرمنو لپاره وي کومې چې د تل لپاره خپلې کورنۍ سره نشي یوځاي کیداي، په نوموړو خدمتونو کې خوندي استوګنځی، زده کړې او د دندې ترلاسه کولو فرصتونه شامل دي.

## د کار، ټولنیزو چارو، شهداؤ او معلولینو وزارت باید:

- په جرمي قضایاو کې د ټولنیزې پلټنې د رپوټونو د جوړولو په برخه کې د وزارت ظرفیت پراخه کړي.

- دا ډول رپوټونه د ټولو قضيو لپاره برابر کړي چې د ميرمنو او نجونو په وړاندې "اخلاقي" جرمونه هم پکې شامل وي.

*د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمېسيون بايد:*

- د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسون ظرفيت د هغو ميرمنو او نجونو په برخه کې لوړ کړي له کومو سره چې د خپلې کورنۍ يا خسرګنۍ لخوا ناوړه چلند کيږي.
- د هيواد په کچه د عامه پوهاوي کمپاين وکړي، چې لاندې پيغامونه بايد په کې شامل وي:
  - اجباري ودونه، کم عمره ودونه، جسمي تهديد، او په جبر فاحشه کول جرم ګڼل کيږي، او هرڅوک چې د يو له دغو جرمونو قرباني وي، کولاي شي چې د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسون څخه مرسته وغواړي.
  - ميرمنې او نجونې کولاي شي چې د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کميسون سره د مرستې غوښتلو لپاره اړيکه ونيسي، چې د مناسب امن کور په اړه د معلوماتو ترلاسه کول هم پکې شامل دي.
  - ميرمنې او نجونې حق لري چې محکمې ته ولاړې شي او د طلاق غوښتنه وکړي همدارنګه هغوي حق لري چې خپل ماشومان وساتي دا په هغه صورت کې نجلی د ۹ کلونو څخه ټيټه او هلک د ۷ کلونو څخه ټيټ وي، يا لدې څخه زيات عمر لرونکي وي، البته که ترډيره د ماشوم په ګټه وي.
  - ميرمنې او نجونې کولاي شي د خپلو حقوقو د خونديتوب لپاره حقوقي مرستو ته لاس رسی ولري، پدې برخه کې د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسون کولاي شي چې مرسته ورسره وکړي.
- کله چې د فاميل قانون تعديل شي او تبعيض لرونکي مادې يې محوء شي، د ميرمنو د حقوقو په برخه کې د تازه معلوماتو د تيتولو او عامه پوهاوي لپاره کمپاين ترسره کړي.

*د افغانستان د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه بايد:*

- د مدافع وکيلانو لپاره د پوره استازيتوب په برخه کې تفصيلي معيارونه جوړ کړي.
- د عامه پوهاوي يو داسې پروګرام جوړ کړي چې په مټ يې په زندانو کې داسې پوسټرونه او مواد توزيع کړي چې زندانيان په هغه څه باندې پوه کړي کوم چې د مدافع وکيلانو څخه توقع کيږي. په نوموړو موادو کې دا هم ذکر شوي وي چې که چيرې مدافع وکيلان زندانيانو ته د ټاکلو معيارونو سره سم خدمت نه کوي، هغوي کولاي شي د مدافع وکيلانو ټولنې ته پدې اړه رپوت ورکړي.
- داسې يو ساده بهير رامنځته کړي چې په مټ يې زندانيان وکولاي شي د هغو مدافع وکيلانو څخه په اساني سره خپل شکايت وکړي کوم چې له هغوي سره مسلکي چلند نه کوي.
- د هغو مدافع وکيلانو لپاره ځانګړې لارښوونې رامنځته کړي کوم چې د هغو ميرمنو او نجونو د قضيو څخه دفاع کوي چې د جنسي تيري په ګډون په جرايمو تورنې وي، او همدارنګه هغوي ته دا پوهاوی ورکړي چې په جرايمو کې د ښکيلو ميرمنو د رضايت په اړه معلومات ورکړي.

*ملګرو ملتونو او نړیوال بسپنه کوونکي باید:*

- د افغان حکومت سره د میرمنو په وړاندې دتاوتریخوالو د له منځه وړلو د قانون په تطبیق، د "کور څخه د تیښتې جرم" فسخ کولو، د زنا او فامیل اړوند قوانینو او نورو هغو قوانینو چې د میرمنو په وړاندې تبعیض رامنځته کوي، سیاسي همکاري وکړي.
- په سیاسي، تخنیکي، او اقتصادي همکاریو سره په افغانستان کې د میرمنو د حقوقو څخه ددفاع لپاره نوې، اوږدمهالې او محسوسې ژمنې وکړي. په دې ډول ژمنو کې لاندې ټکو ته لومړیتوب ورکړي:
  - د امن کورونو سره باثباته اوږدمهالې مرستې چې د امن کورونو د اوسني سیستم پراخوالی، د امن پرانیستي کورونه، د زندان څخه د خلاصیدونکو میرمنو لپاره استوګنځي او د هغو میرمنو لپاره اوږدمهالې مرستې پکې شاملې دي کومې چې په دایمي ډول د خپلو کورنیو سره نشي یوځاي کیداي.
  - د میرمنو سره د فامیل د قانون اړوند مسایلو کې حقوقي مرستې.
  - د هیواد په کچه د میرمنو سره د هغوي د حقوقو د خبراوي په برخه کې کمپاین او همدارنګه میرمنو ته پدې اړه پوهاوی چې څرنګه هغوي کولاي شي  د میرمنو په وړاندې دتاوتریخوالو د له منځه وړلو او فامیل د قوانینو په رڼا کې خپل حقوق او مرستې ترلاسه کړي.
  - په زندان کې د ټولو میرمنو لپاره ټولنیز خدمتونه او مشورې ترڅو هره میرمن اونجلی پدې پوه شي چې هغوي ته پکار ندي چې د زندان څخه بیرته کور ته لاړې شي، که چیرې هغوي ته د ناوړه چلند یا مرګ خطر متوجه وي.
- کورنیو پیښو ته د رسیدګی ځانګو او د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالیو د عدلي تعقیب د اختصاصي ځانګو څخه ملاتړ ته ادامه ورکړي، مګر ملاتړ ته د خپلواکو ارزیابیو سره اړیکه ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دا میکانیزمونه خپلې موخې ترلاسه کوي.
- دمختلفو هیوادونو لپاره منظم میکانیزمونه جوړ کړي ترڅو د خوندیتوب په برخه کې مرسته وکړي او یو کم شمیر هغو میرمنو ته په خپلو هیوادونو کې ځاي ورکړي کومې چې په خوندي ډول په افغانستان کې نشي اوسیداي.